د پيشرو خپرونه ۴۹ ګڼه

۱۷ اپريل ۲۰۱۴

# زموږ فرشته يې ووژله

**له «کابليان يې په خپلو وينو ليکي»**

هغه شپه چې «موعودي فرشتې» د کابل پر سړکونو ګرځيدې، موږ تر سهاره ويښ وو. اصلي ګناهکاران له کابل څخه تښتيدلي وو. د هر يوه په سترګو کې د هيلو او انديښنو ناڅرګندتيا ليدل کيده. راډيوګانو د ګلبدين او مسعود تر منځ د سختو خبرو په اړه ويل. موږ په دې تمه وو چې ملګري ملتونه به څه وکړي. هيڅوک نه پوهيدل چې سبا به څه کيږي.

زموږ کور د چهلستون غره، په بيوزلي کوڅې کې مخ پر لمر و. ټول ټال يوولس غړي وو او هر يو په کار بوخت و. لا سهار کوڅې خالي وې چې زما مور ګذرګاه ته د يوه اشنا کور تـه ولاړه. شايد يې د «اسلامي حکومت» مبارکي ورکوله! هغه تر ماښامه رانغله. زموږ د کور شاته د وسله والو کسانو د بوټانو خړپ خړوپ اوريدل کيدو. ډلي ډلي به له بيلابيلو وسلو سره ديخوا هاخوا ګرځيدې. د غونډيو پر سر يې سهار يـا هم لـه شپې نـه مورچلي جوړولي. غره ته مې چې کتل يوی نابرې ويرې ريږدولم. شپږم حس مې راته ويل، نه چې جګړه پيل شي. چاى مو نوی څښلی و چې زما تصور په رښتيا بدل شو. قيامت راورسيد. ته وا چې د کابل ټولو مرميو زموږ کـور پـه نښه کړی و. غوښتل مې چيغه کړم چې يو راکټ زموږ پـه دهليز کې ولګيد. موږ بـې مـور او پلاره تر لوګي او ايرو لاندې ځانونه راټولول. مور يوې خواتـه پـه منده وه او د ټوپکوالو پرلـه پسي ډزو ځمکه سوری کولـه. يوه ګاونډې د تيښتې په حال کې زما مور ته ناره کړه: په دهليز کې مو راکټ ولګيد. څـه شيبه وروسته چې راپورتـه شوو، ژوندي وو. زما مور په يوه ګوټ کې چُپه ولاړه وه او خپل ويښتان يې شکول. ټول پر ځمکه پراتـه وو خو مور دومره هيبت وهلې وه چې له مرميو او ډزو نـه داريده، هغه پر يوه لوړ ځای ولاړه وه. کلـه چې موږ ټولو ځانونه سرای ته ورسول، زما د مور له خولې له سوزه ډک غږ پورته شو: قلعة شورا کې ستاسو د نيکه ځای تـه ځو.

د ډبرو ديوالونو او جګو او را لويدلو ونو تر پناه ګذرګاه ته ورسيدلو. هغه شپه ګذرګاه تر نورو ځايونو کمه تر بريد لاندې وه. د مرميو شپيلکو او ټک او ټوک پر شير دروازه او آسمايی د وينو پرده غوړولې وه. لـومړی ماښام و چې د سپيو غپا او د بانګيانو بانـګ لـه کابل څخه پورتـه نـه شو. داسې انګيرل کيدل چې د کابل مسته خاوره په توبرو کې باسي. تر سهاره ويښ وو. سبا نهه بجو خواتـه د غم وريځې هرې خوا خپرې وې خو د سربو باران کم شوی و، موږ هيڅ شی نه درلود. غرمه سترې هلاکه او بـې خوبـه قلعة شورا تـه ورسيدلو. زما مور پـه

څو ثانيو کې د خپل ژوند تږوله هستي له لاسه ورکړې وه. هغه دومره هيبت وهلې وه چې د خپلې خوښې بسترو په کيسه کې هيڅ نه وه. تر اوسه خبر نه يم چې هغه شپه زما پلار چيرې ويده شو. هغه يو ټيټ رتبه مامور و، يو څه اوږه يې په شا کړه، د خپل پلار کور ته رهي شو. پل خشتي ته نږدې، کله چې د دوو وسله والو ډلو له منځ څخه د تيريدو په حال کې و، يو ځلې د دواړو خواو تر منځ ټکان پيل شو او هماغه شيبه درې مرمۍ يې پر ټټر او نس ولګيدې. خوارکی تر زياتي مودې له ۳۴ نورو مړو سره د مرګ په انتظار و، زياته وينه يې ضايع کړې وه. نه پوهيږم غرمه چا څلورسوه بستريز روغتون ته وړی و. مور د هغه د فاتحې په فکر وو. اووه ورځې وروسته چا يي د روغتون څخه خبر راوړ او شل ورځې وروسته مو هغه وليد. وچ کلک او معيوب شوی و.

جګړه کرار کرار د ده خدايداد خواته وغځيده. د پسرلي په سهار چې زما د نيکه ځمکې شني وې، د مرميو او راکټو لړۍ د دې سيمې پر غاړه هم راتاو شوه. زمونږ سره نور کوم خاص شی نه و او سپک شوي وو. له څو کمپلو او لوښو سره چهلستون ته بيا ګذرګاه ته، له هغه ځايه د علاالدين څلورلاري ته، بيا ده دانا ته، له هغه ځايه تايمني ته وروسته جنګلک ته، له هغه ځای څخه بيرته د کور په لور  چهلستون ته سرګردانه راغلو. چې زمونږ هر بېځايه کيدل يوه غمجنه کيسه ده. په دې سيمه کې نور نو ودانۍ نه ليدل کيدی. بالاخره زړو مکروريانو کې د نازو انا ښوونځي ته مو پناه يووړه. په يوه ټولګي کې څلور کورنۍ ځای پر ځای شوي وې. د ورځې مو يو وخت څه خوړل او په خپل ځايونو کې ديخوا هاخوا سره ښوريدلو. غوږونه مو له ډزو سره عادت کړی و. په داسې مجسمو بدل شوي وو چې مرګ يي نه پيژندی. هره ورځ مو مړي او ټپيان پورته او ښکته کول. ته وا په نوبت کې ولاړ وو. هيچا د خپلو خپلوانو حال نه درلود. يوازې د وسله والو موټران مو ليدل چې له لوټ شويو مالونو څخه ډک پر ويجاړو کوڅو تيريدل. د موټرانو پر شيشو يي د خپل «رهبر» عسکونه لګولي وو.

کله چې راکټان پر مکروريان لګيدل، مونږ زير زميني کې خوندي کيدلو، او د شپې تر ناوخته کله هم تر سهاره په هغه تورتم کې ډوب وو. د ژمي سړې شپې مو له څو کمپلو سره او بې له اوره تيرولې. زما کشري خور فرشتې، له يخه به ځان پر مور مښلوی او کله به يې پوښتل: مورې، د ژمي په پای کې ښوونځی پيل کيږي؟ هغې لومړنی ټولګی پای ته رسولی و. مونږ هغې ته کتل خو کوم ځواب مو نه درلود. يوازې ما ورته زړه ورکاوه او په مصنوعي موسکا مې ورته ويل: ملګري ملتونه جګړه دروي. بيا به يې په خپل ماشوم انداز پوښتل: د ملګرو ملتونو زور په «رهبرانو» رسيږي؟ مونږ هم په دی نه پوهيدلو.

يوه شپه په همداسي پوښتنو کې ډوب وو چې ناڅاپه يوې چاودني زمونږ د ټولګي د شا کړکۍ ولړزوله. مونږ ټول د زير زمينی خواته په منډه شو. زما مور ناری وهلې: فرشتې، فرشتې، هله ژر شه چې بل راکټ راځي. خو ناوخته شوی و. فرشته چُپه وه او يوازې يې زما مور ته کتل خو سترګي يې نه رپيدې. ما د هغې خواته منډه کړه، د کمپل له لای څخه ويني څڅيدې، دې صحنی زما زړه مات مات کړ. زما ورور چيغه کړه چې فرشته يې ووژله! زما د مور چيغې د چاودنو له غږ سره ګډې شوې. هغې د ښوونځي پيل و نه ليد او د پر له پسي راکټونو او چاودنو لاندې د ښوونځي دروازې يوه اړخ ته په يوې کندې کې مو ښخه کړه. ويل مو امانت دې وي وروسته يي هديرې ته وړو، خو پر له پسي راکټونو د هغې انتقال ناشونی کړ، لکه چې نه يې غوښتل ښوونځی پريږدي. دعا مو ورته وکړه او په هماغه ځای کې مو ابديت ته وسپارله. وروسته چې څو نورو ځايونو ته وتښتيدلو، د هغې قبر يي هم په مرميو ويشتلی و.

مونږ بالاخره نيمروز ته وتښتيدلو.